


## خلاصه

### د یو کارمن په توګه خپل حقوق وپیژنئ

- تاسو د خپلو دیني عقایدو او یا عباداتو د عملي کولو حق لرئ، چې په هغې کې د ږیرې لرل، د لمونځ لپاره وخت، د حجاب اغوستل او د جمعې لمونځ ته تلل شامل دي، د کومو لپاره چې ستاسې د کار مالک باید د امکان ترحده شرایط برابر کړي.
- ستاسو د کار مالک باید ډاډمنتیا رامینځته کړي چې تاسې د مسلمانانو ضد سپکاوي، او ناخوش آینده او زیات فشار سره مخ نشئ، چې له خپل دین څخه واړوئ .
- ستاسې د کار مالک لپاره غیرقانوني ده چې د کارکولو د تبعیض د شکایت له کبله ستاسې په مقابل کې غچ اخستونکې عمل وکړي .
- CAIR ته د کار کولو د تبعیض یا زوروونې راپور ورکړئ.

# KNOW YOUR RIGHTS

**د یو کارمن په توګه**

*As an Employee*

دا معلومات باید د قانوني مشورې په توګه ونه منل شي

CAIR

**په امریکا کې داسلامي اړیکو شورا**

*Council On American-Islamic Relations*

WWW.CAIR.COM

KNOW YOUR RIGHTS

## موږ ټول حق لرو چې په خپل طبیعت واوسو او په خوندي او منل شوی کاري چاپیریال کې کار وکړو

### اوم څپرکي ستاسې لاندني حقوق تضمینوي:

- **مناسب دیني امکانات:**
  د کار مالک باید یو کارکوونکې ته د امکان ترحده شرایط برابر کړي چې خپله مذهبي عقیده او اعمال ترسره کړای شي خو په شرط د دې چې د کار مالک کاروبار تم نه کړي او تاوان ورته ونه رسوي. که چیرې د کار مالک تاسې ته د دیني عباداتو د سرته رسولو امکاناتو برابر نه کړي، دیني تبعیض ترې جوړیدی شي. په دیني اعمالو کې د ږیرې لرل، د لمونځ د وخت تفریح، د حجاب اغوستل او د جمعې لمونځ ته تلل شامل دي.
- **په کار ګمارنه، کار نه د شړلو او ترفیع کې عدل او انصاف:**
  ستاسې د کار مالک حق نه لري چې ستاسې د کاري موقف په هکله ستاسې دین په نظر کې ونیسي.
- **له دښمنۍ پرته کاري چاپیریال:**
  ستاسې د کار مالک باید ډاډمنتیا رامینځته کړي چې تاسې د مسلمانانو ضد سپکاو او ناخوش آینده او زیات فشار سره مخ نشئ چې د خپل دین څخه واړوئ.
- **پرته د انتقام د ویرې څخه د تبعیض په اړه د شکایت حق:**
  ملي قانون ستاسې حق تضمینوي چې د کار د تبعیض په اړه د ادعا شوي عمل راپور ورکړئ. ستاسو د کار مالک قانوني حق نه لري چې ستاسو د شکایت په مقابل کې ستاسې نه انتقام واخلي.

### د یو کارمن په توګه خپل حقوق وپیژنئ:

- د ۱۹٦٤ کال د مدني حقوقو اوم څپرکی کاګر د کاري تبعیض په مقابل کې چې د توکم، مذهب، رنګ، ملي اصلیت او جنس په اساس ولاړ وي په دولتي او خصوصي هغو کارځایونو کې ساتې چې لږ تر لږه ۱۵ کارکوونکي ولري. اووم څپرکی ملي قانون دی او په ټول هیواد کې پلی کیږي. ستاسو ایالت ممکن د کاګر د حقوقو د ساتنې په خاطر د ملي قوانینو ترڅنګ اضافه ځانګړي قوانین هم ولري.
- د ایالتی قوانینو د مرستې لپاره خپل سیمه ایز د CAIR دفتر سره اړیکې ټینګې کړئ.

### کله چې د کار په ځای کې د تبعیض سره مخ شوئ:

- آرام او باادبه اوسئ
- زیاتې کوونکې کس ته وواياست چې اعمال یې تبعیضي دي.
- د تبعیضي عمل راپور د کاري ځای مشرتابه ته په لیکلې بڼه ورکړئ.
- د یادښتونو په خوندي کولو، د تفصیلي ژورنال په ساتلو، د شاهدانو شتون او لیکلې شکایتونو په ورکولو سره د تبعیض ټول اسناد ثبت کړئ او خوندي یې وساتئ. د ټولو موادو کاپی حتمي وساتئ. مهمه ده چې کاغدي شواهدو په لاس ولرئ.
- هیڅ ډول اسناد مه لاسلیک کوئ او یا پرته د وکیل له مشورې څخه استعفا ورنکړئ.
- د راپور د ثبتولو لپاره د CAIR سره اړیکه ونیسئ.

